# رجب

## د الله میاشت ده

03-February-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# رجب د اللّٰہ مياشت ده

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! د نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ معنیٰ ده ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو. نِيَّت د زړه ارادے ته وائي چې کله هُم جُمات ته د داخليدو سعادت درنصيب شي نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو اِنْ شَآءَاللّٰہُ د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيښمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د اللّٰه پاک د آخري نبي مُحَمَّد عَرَبِی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په ورځ د قيامت به ما ته زيات نزدې هغه وي چا چې په دُنيا کښې په ما باندې زيات دُرُود شريف لوستلي وي.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...ترمذی، ابوابُ الْوِتْر، صفحه:144، حديث:484۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے. [1]

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

✿ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او نور دا نيتونه اوکړئ چې ✿ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ✿ چې څومره کيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ✿ د علم زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ✿ د بيان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ✿ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ✿ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

# نُوراني غر

يو ځل د الله پاك نبي حضرت عِيسٰی رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د يو ځليدونکي نُوراني غَر په خوا تيريدلو. هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاك په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله پاکه! دې غَر ته د وئيلو طاقت عطا کړې. الله پاك د هغوئي دُعا قبوله کړه. هغه غر اووئيل: يا رُوحَ الله! عَلَيْهِ السَّلَام تاسو څه غواړئ؟ حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: خپل حال بيان کړه (يعني ته نُوراني ولے ئې؟ د خپلو ځليدلو وجه بيان کړه). هغه غر عرض اوکړو: په ما

---

[1] ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

کښې دَنَنه يو سړے اوسيږي (يعني د هغه په برکت زه داسې ځليږم). حضرت عِيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام بيا د **اللہ** پاك په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا **اللہ** پاکه! هغه سړے ما ته اوښائې. د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام دا دُعا هم قبوله شوه، يو دَم غَر اوچاودو او دَ هغې نه دَ سپوږمئ په شان ځليدونکے مخ يو بُزُرګ را اُووَتلو، هغه نيك انسان اُووئيل چې: زه د حضرت سَيِّدُنا مُوسٰی کَلِيمُ اللہ عَلَيْهِ السَّلَام اُمَّتي يم، ما دَ **اللہ** پاك نه دا دُعا کړې وه چې يا **اللہ** پاکه ما دَ خپل خوږ محبوب، آخري نبـي، **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دَ تشريف راوړو پورې ژوندے اوساتې چې زه دَ هغوئي دِيدار هم اوکړم او دَ هغوئ د اُمَّتي جوړيدو شرف هم حاصل کړم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زه په دې غَر کښې د شپږو سوو کالو نه د **اللہ** پاك عِبادت کووم. حضرت سَيِّدُنا عِيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام چې د هغه نيك سړي خبرې واوريدې نو د **اللہ** پاك په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: يا **اللہ** پاکه! آيا د زمکې په سر ستا په نِزد د دې سړي نه زيات عِزَّت والا هم څوك شته؟ **اللہ** پاك اوفرمائيل: اے عِيسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام)! **په اُمَّتِ مُحَمَّدِي کښې چې څوك د رَجَب د مياشتې يوه روژه هم اونيسي، هغه زما په نِزد د ده نه هم زيات مُکَرَّم (يعني عِزَّت والا) دے.**[1]

## په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې د لوستلو دُعا

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** مياشت شروع شوې ده، رَجَب ډيره د برکتونو او حُرمت والا مياشت ده، جَنَّتـي صحابي حضرت اَنَس بِن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: کله به چې د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** مياشت راغله نو د **اللہ** پاك **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

---

1...نُزْهَةُ الْمَجَالِس، صفحه: 201۔

وَسَلَّم به دا دُعا لوستله: اَللّٰھُمَّ بَارِکْ لَنَا فِیْ رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ يعني اے الله پاکه! ته مونږ ته په رَجَب او شَعبان کښې بَرَکت راکړې او مونږه رَمَضان ته اورسوې.[1]

راځئ چې مونږه هم [په شريکه] دا دُعا اوکړو: اَللّٰھُمَّ بَارِکْ لَنَا فِیْ رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح کښې په مِرْاٰةُ المناجيح کښې ليکي: مطلب دا دے چې اے الله پاکه! په رجب کښې زمونږ په عبادتونو کښې برکت راکړې او په شعبان کښې خشوع او خضوع را عطا کړې او د رمَضَان مياشت راکړې او په هغې کښې روژے نيول او د هغې په شپو کښې عبادتونه کول رانصيب کړې.

## رجب د تُخم کرلو مياشت ده

صوفيائے کرام عَلَيْهِمُ الرَّحمة فرمائي: رَجَبُ الْمُرَجَّب د تُخم کَرلو مياشت ده، شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د اُوبه خوَر مياشت ده او رَمَضَانُ الْمُبَارَك د فَصل پريك کولو مياشت ده، په رجب کښې په نوافلو کښې ډير کوشش کوئ، په شعبان کښې په خپلو ګناهونو باندې [ اوژاړئ او] اوښکې اوبَهيَوئ او په رَمَضان کښې الله پاك راضي کړئ او دا فصل په خير سره اورېبئ [يعني کټ کړئ].[2]

---

1…مُسْنَدِ بَزّار، جلد:13، صفحه:117، حديث:6496۔

2…مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه:330 بتغير۔

# ”رَجَب“ د الله پاك مياشت ده

زمونږ خوږ نبـي فرمائي: رَجَبٌ شَهْرُ اللّٰهِ وَشَعْبَانُ شَهْرِیْ وَرَمَضَانُ شَهْرُ اُمَّتِیْ يعني رَجَب د الله پاك مياشت ده، شَعبان زما مياشت او رَمَضان زما دَ اُمَّت مياشت ده.[1]

## د رَجَب د مياشتې د احترام بَرَکت

د حضرت سَيِّدُنا عِيسٰى رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د وَخت واقعه ده چې يو سړے د ډيرې مودے نه په يوه ښځه عاشِق وو. يو ځل هغه په خپله محبوبه باندې قابو اوموندله، د خلقو ګڼړه ئې چې اوليدله نو هغه اندازه اولګوله چې هغوئې مياشت ګوري. هغه د هغه ښځې نه تپوس اوکړو چې خلق د کومې مياشتې سپوږمئ ګوري؟ هغې جواب ورکړو: ”د رَجَب.“ هغه حالانکه چې کافِر وو خو چې د رَجَب شريف نوم ئې واوريدو نو د ادب په وجه فوراً جُدا شو او د ”ګنده کار“ نه منع شو. حضرت سَيِّدُنا عِيسٰى رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم اوشو چې: زمونږه فلانکي بنده سره مُلاقات اوکړه. هغوئې عَلَيْهِ السَّلَام تشريف يوړلو او د الله پاک حکم او د خپل تشريف راوړلو وجه ئې ورته بيان کړه. دا ئې چې خنګه واوريدل نو د هغه زړه د اسلام په رڼړا روښانه شو او اِسلام ئې قبول کړو.[2]

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو دَ رَجَب سپړلي اوليدل! د رَجَب المُرَجَّب په

---

1…جامع صغير، صفحه:270، حديث:4411۔

2…نفيس الواعظين، صفحه:379378۔

تعظيم كولو چې يو كافِر ته د اِسلام دولت نصيب كيدے شي نو يو مسلمان چې د رَجَب المُرَجَّب اِحترام اوكړي، معلومه نه ده چې هغه ته به څه څه انعامونه نصيب كيږي!

## د حُرمَت د مياشتو اِحتِرام اوكړئ!

رَجَب، ذِيقَعده، ذُوالْحِجَّة او مُحَرَّم دا څلور مياشتې حُرمت والا دي، **اللہ** پاك په قُرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ﳔ فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ

(پاره:10،سورة التوبة:36)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: بيشكه د مياشتو شمير د اللہ په نِزد د اللہ په كتاب كښې دولس مياشتې دي، د كله نه چې هغه آسمان او زمكه جوړ كړي ده، په هغې كښې څلور مياشتې حُرمت والا دي، دا نيغ دِين دے نو په دې مياشتو كښې په خپلو ځانونو ظُلم مه كوئ.

په دې آيت مُباركه كښې بيان كړے شو چې د **اللہ** پاك په نِزد قَمَري كال [يعني هغه كال د كوم حِساب چې د سپوږمئ نه شروع كيږي د هغې] 12 مياشتې دي، په دې 12 مياشتو كښې 4 مياشتې يعني رَجَب، ذِيقَعده، ذُوالْحِجَّة او مُحَرَّم ډيرې عِزَّت والا دي، په دې كښې ګناه كول سخت جُرم دے، په دې كښې د نيكو ثواب ډير زيات دے، لِهٰذا اے مسلمانانو! هسې خو ګناه كله هُم كول نه دي پكار، البته په دې څلورو حرمت

والا مياشتو کښې خصوصيت سره د ګناهونو نه ځان ساتئ.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رَجَب د مياشتې يو څو عبادتونه

اے عاشِقانِ رسول! رَجَب حُرمت والا مياشت ده، په دې کښې ډير ډير عبادت کوئ! ❁ په رَجَب کښې اِسْتِغْفَار ډير کوئ ځکه چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په رَجَب کښې د اِسْتِغْفَار کثرت کوئ! بيشکه د دې په هر ساعت کښې الله پاك ډيرو خلقو ته د اور نه خلاصے ورکوي. ❁ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې عمره کول خوښول. که څوك طاقت لري نو د عمرے ادا کولو سعادت دِ حاصل کړي. الله دِ اوکړي چې د الله پاك دا مياشت (يعني رَجَبُ الْمُرَجَّب) د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارك ښار مدينه منوره کښې تيرول رانصيب شي❁ د بُزُرګانو (يعني د الله پاك د نيکو بندګانو) معمول وو چې په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې به ئې وفات شوو مسلمانانو ته ډير ډير ايصالِ ثواب کولو، ايصالِ ثواب ټول کال کولے شئ خو په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې به ئې د دې زيات اهتمام کولو. خُصُوصاً په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې د اِمام جعفر صادِق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اِيصالِ ثواب د پاره د کونډو [يعني د خاورو په لوښو کښې د کهير] اهتمام کيږي، عام طور خلق په 21 رَجَب د دې ختم کوي، دا هم جائز دي، خو په اصل کښې د دې ختم په 15 رَجَب باندې جوړيږي ځکه چې په 15 رَجب باندې د اِمام جعفر صادِق رَضِيَ الله

---

1...تفسير نعيمی، پاره:10، سورهٔ توبه، زيرِآيت:36، جلد:10، صفحه:292291ماخوذاً۔

عَنۡهُ د وفات قول دے.

## د رَجَب نوافِل

☸ دغه شان په رَجَبُ الۡمُرَجَّب كښې د نفلي لمونځونو كثرت كول پكار دي. د حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په رَجَب كښې يوه شپه ده چې په هغې كښې د نيك عمل كوونكي د پاره د 100 كالو د نيكو ثواب ليكلے كيږي او هغه د رَجَب ووه وِيشتمه شپه ده. څوك چې په دې [شپه] كښې 12 ركعته داسې ادا كړي چې په هر ركعت كښې سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَه او يو سورت اولولي او په هرو دوو ركعتو اَلتَّحِيّات اولولي [يعني قعده اوكړي] او په دولس ركعته پوره كولو سلام اوګرځوي، د هغې نه پس 100 ځله سُبۡحٰنَ اللّٰهِ وَالۡحَمۡدُلِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكۡبَرُ ؕ اولولي، 100ځله اِستِغفار (مَثَلًا اَستَغفِرُ الله اولولي)، 100 ځله دُرود شريف اولولي او د خپل آخِرت مُتَعَلِّق چې د څه خيز غواړي دُعا دِ اوكړي او سحر دِ روژه اونيسي نو **الله** پاك به د هغه دُعاګانې قبولې كړي سِوا د هغه دُعا نه كومه چې د ګناه د پاره وي.[1]

## آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَجَب روژے نيولې

اے عاشِقانِ رسول! د رَجَبُ الۡمُرَجَّب اَهم ترين عبادت روژے نيول دي، حضرت عُروه بِن زُبير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حضرت عبدُالله بِن عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما نه تپوس اوكړو: آيا د **الله** پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په رَجَبُ الۡمُرَجَّب كښې روژے نيولې؟ اوئې

---

1…شُعَبُ الۡاِيمان، باب الصيام، جلد:3، صفحه:374، حديث:3812۔

فرمائيل: آؤ! (روژے به ئې نيولې) او دې ته به ئې اَهَمِّيَّت هم ورکولو.[1]

## د دوو کالو د عبادت ثواب

جَنَّتي صحابي حضرت سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې د حُرمت په مياشت کښې درې ورځې د زيارت، جُمعے او خيالي په ورځ روژے اونيولې، د هغه د پاره به د دوو کالو د عبادت ثواب اوليکلے شي.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** دلته د حُرمت والا مياشتو نه مراد څلور مياشتې يعني **ذِيقَعده، ذُو الْحِجَّة، مُحَرَّم** او **رَجَب** دي، په دې څلورو مياشتو کښې چې په کومه مياشت کښې هم د زيارت، جُمعه او خيالي روژے اونيسئ نو **اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم**! د دوو کالو د عبادت ثواب به حاصل کړئ.

## چې څه اوغواړي ورعطا کړے شي به

په رواياتو کښې دي چې ❁ چا په رجَب کښې ووه روژے اونيولې، د هغه د پاره به د دوزخ ووه واړه دروازے بندې کړے شي ❁ چا چې لس روژے اونيولې، هغه چې دَ **الله** پاك نه څه غواړي **الله** پاك ئې هغه ته عطا کوي ❁ او بيشکه په جنت کښې يو محل دے، د هغې محل په مقابله کښې دُنيا د مرغۍ د جالې په شان ده، هغه محل ته به

---

1...کنزالعمال، جزء:8، جلد:4، صفحه:301، حديث:24596۔

2...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:485، حديث:1789۔

صرف هغه [مسلمانان] داخليږي چا چې د رَجَب روژے نيولي وي.[1]

## د يو جَنَّتي نهر نوم رَجَب دے

د جَنَّتي صحابي حضرت سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د **الله** پاك آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: په جَنَّت كښې يو نهر دے چې هغې ته رَجَب وائي، هغه د پئيو [يعني شودو] نه زيات سپين او د شهدو [يعني ګبين] نه زيات خوږ دے، څوك چې د رَجَب يوه روژه اونيسي، **الله** پاك به په هغه باندې د هغې نهر نه څښې.[2]

## د رجَب روژه د ګناهونو كفاره ده

سُلْطَانُ الْمُفَسِّرِين، حضرت عبدُ الله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: دَ رَجَب د وړومبئ ورځې روژه د دريو كالو كَفَّاره ده، او د دويمې ورځې روژه ئې د دوو كالو او دَ دريمې ورځې روژه ئې د يو كال كَفّاره ده، بيا د هرې ورځې روژه ئې د يوې مياشتې كَفّاره ده (يعني د رجَب شريف دا روژے د ګُناهِ صغيره د مُعافئ ذريعه جوړيږي).[3]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نُوح عَلَيْهِ السَّلَام په كشتئ كښې د رجَب د روژو سپرلي

په يو حديث شريف كښې دي چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ❁ چا

---

1…اسلامی مهینوں کے فضائل، صفحه:133،132۔
2…شُعَبُ الایمان، باب فِی الصِّیَام، جلد:3، صفحه:368، حدیث:3800۔
3…جامع صغیر، صفحه:311،312، حدیث:5051۔

چې د رَجَب يوه روژه اونيوله نو هغه به د پوره کال د روژو په شان وي ❁چا چې ووه روژې اونيولې د هغه د پاره به د دوزخ ووه واړه دروازے بندې کړے شي ❁چا چې اَته روژې اونيولې د هغه د پاره به د جَنَّت اَته واړه دروازے بيرته کړے شي ❁چا چې لس روژے اونيولې هغه چې د **الله** پاک نه څه غواړي **الله** پاک به ئې هغه ته ورکوي ❁او چا چې پينځلَس روژے اونيولې نو د آسمان نه يو اعلان کونکے اِعلان کوي چې (اے بنده) ستا تير شوي ګناهونه اوبخښلے شو پس ته د نوي سر نه عمل شروع کړه څکه چې ستا بدئ په نيکو کښې بدلې کړے شوې. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اُوفرمائيل: ❁څوك چې د دې نه زيات اوکړې نو **الله** پاک به هغه ته زيات ورکړي ❁او په رَجَب کښې نُوح عَلَيْهِ السَّلَام په کشتئ کښې سور شولو نو ځپله ئې هم روژه اونيوله او په کشتئ کښې موجودو خلقو ته ئې هم د روژے نيولو حکم اوکړو. د هغوئي کشتئ د لسم مُحَرَّم پورې شپږ مياشتې په سفر وه.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې د نفلي روژو نيولو ډير ډير برکتونه دي. **الله** پاك دِ مونږ ټولو ته د رَجَب شريف د برکتونه حاصلولو او د ډيرو ډيرو روژو نيولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...شُعَبُ الايمان، باب فِي الصِّيام، جلد:3، صفحه:368، حديث:3801۔

## صحت به مو هم ټيک شي او اَجر به هم اوګټئ

اے عاشِقانِ رسول! روژه ډيره فائده منده نيکي ده، روژه نيولو سره د آخرت ثواب ميلاويږي، د دې سره سره دُنياوي فائدے هم حاصليږي. د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: ما د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې بيشکه الله پاك د بني اسرائيلو يو نبي عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله: اے نبي عَلَيۡهِ السَّلَام! خپل قوم ته اووايه چې: بيشکه کوم بنده چې زما د رِضا د پاره يوه ورځ روژه اونيسي، زه د هغه بدن ته صحت ورکووم او د هغه اَجر [يعني ثواب] زياتووم.[1]

## روژه اونيسئ! صحت مند به شئ....!

په مُعجَمِ اوسط کښې د حضرت ابُوهُريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: صُوْمُوْا تَصِحُّوْا روژه اونيسئ! صحت مند به شئ وَ سَافِرُوْا تَسْتَغْنُوْا او سفر اوکړئ غنيان (يعني مالدار) به شئ.[2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! روژه د صحت مند ژوند ضمانت دے، روژه نيولو سره جسماني صحت هم ميلاويږي او روحاني تندرستي هم نصيب کيږي، روژه ظاهري اندامونه هم ښائسته کوي او زړه نه د ګناهونو خِيري لرې کوي او زړه هُم

1…شُعَبُ الايمان، بابٌ فِي الصِّيام، جلد:3، صفحه:412، حديث:3923۔

2…معجم اوسط، جلد:6، صفحه:147، حديث:8312۔

پاك و صاف او روښانه کوي.

## د جسماني او روحاني صحت يو راز

دا خبره منلے شوي ده چې کم خوراك کولو سره انسان جسماني طور تندرسته او صحت مند وي او دا هم يقيني خبره ده چې د نفساني خواهشاتو مخالَفَت کولو سره بنده ته روحاني صحت نصيب کيږي او زړه ورسره پاك کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! روژه نيولو سره دا دواړه خبرې حاصليږي، روژه نيولو سره ټوله ورځ لوږه او تنده هم برداشت کول وي او د نفساني خواهشاتو نه هم بنده منع وي، دغسې روژه نيولو سره انسان جسماني طور صحت مند کيږي او روحاني طور ورته هم سکون ميلاويږي.

## بچيه! روژه مه پريږده

د اعلٰـی حضرت، اِمام اهلِسُنَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه والِدِ محترَم مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه لوئ ولـئ کامِل وو، د هغوئې د دُنيا نه پرده کولو نه پس خبره ده، يو ځل د رَجَبُ الْمُرَجَّب مياشت وه، مولانا نَقِـي علي خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د خپل شهزاده اعلٰی حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خوب کښې تشريف راوړو، او د غيب خبر ئې ورکړو، ورته ئې اوفرمائيل: بچيه! په دې ځل به رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې سخت بيمار کيږې، خو روژه مه پريږده. اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ځنګه چې والد صاحب فرمائيلي وو، هم هغسې اوشو، رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې زه په سخت مرض کښې اخته شوم، ډاکټرانو راته ډير اووئيل چې: روژه مه

نيسه خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما روژے اونيولې او د دې په بركت **الله** پاك ما ته شِفا راكړه، په حديثِ پاك كښې ارشاد دے: صُوْمُوا تَصِحُّوا يعني روژه اونيسئ صحت مند به شئ.[1]

# د حكيم جالينوس د طب خُلاصه

په تفسير قُرطبي كښې دي: يو ځل يو غيرمُسلِمه طبيب [يعني حكيم] د حضرت امام زينُ العابدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ په خدمت كښې حاضر شو، اوئې وئيل: علم دوه قِسمه دے. (1) عِلمُ الاَديان (يعني ديني علم) (2) عِلمُ الاَبدان (يعني علمِ طِب [ډاكټري])

ستاسو په مذهبي كتاب قرآنِ كريم كښې علمِ دين شته دے خو طِب [يعني ډاكټري] پكښې نشته. حضرت امام زينُ العابدين رَضِیَ اللہُ عَنْہ اوفرمائيل: ته د ټول قرآن كريم خبره كوے، د قرآنِ كريم صرف يو جُز د ټول طِب [يعني ډاكټرئ] خُلاصه بيان كړي ده، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہ د اتمي سيپارے د سورهٔ **اعراف** د آيت نمبر 31 يو جُز تلاوت كړو:

| | |
|---|---|
| وَّ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا (پارہ8، سورۂ اعراف:31) | مفهوم ترجمه كنزالايمان: او خورئ څښئ او د حد نه مه تيريږئ. |

په دې آيت كښې د اِسراف دوه صورتونه دي: اوّل دا چې بنده اُوږے نه وي او خوراك كوي، دويم ډير خوراك كول، **الله** پاك د دې دواړو خبرو نه منع كړي ده، ځكه چې بنده ښه اوږے شي نو هله دِ خوراك ته كښيني او چې لا زړه ئې نور خوراك هُم غواړي د خوراك نه دِ بس كوي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم صحت مند به اوسي.

هغه غير مسلمه د دې آيت په اوريدلو اووئيل: دا خو مې اومنله چې قرآنِ كريم د ټول طِب خلاصه په يو څو لفظونو كښې بيان كړي ده خو ستاسو نبي د دې په باره

1…ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:206۔

كښې هيڅ نه دي فرمائيلي، حضرت امام زينُ العابدين رَضِیَ اللهُ عَنْه اوفرمائيل: زما د خوږ نيكه سُلطانِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم احاديث په زركاؤ دي، په صرف يو حديث كښې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلمِ طِب خلاصه بيان كړي ده، حديثِ پاك دے: د ټولو نه بد لوښے چې انسان ئې ډكوي، هغه د هغه خيټه ده، انسان له صرف يو څو نوړئ كافي دي، چې هغه د ده ملا نيغه اُوساتي. (1) هغه غير مسلمه ډاكټر چې كله دا حديثِ پاك واوريدلو نو اوئې وئيل: مَا تَرَكَ كِتَابُكُمْ وَلَا نَبِيُّكُمْ لِجَالِيْنُوْسَ شَيْئاً يعنې ستاسو كتاب او ستاسو نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جالينوس (چې د خپل وخت لوئ حكيم وو، د هغه) د پاره هيڅ نه دي پريښودي، بلكه د ټول طِب [يعنې ډاكټرئ] خُلاصه ئې بيان كړي ده.(2)

## د جديد ميډيكل سائنس انكشافات

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د جديد ميډيكل سائنس هم دا وينا ده چې روژه د صحت مند ژوند تيرولو كنجي ده.

پخوا چې كله ميډيكل سائنس ډيره ترقي نه وه كړې، تر هغه وخته پورې د ډاكټرانو وينا وه چې روژه صرف نِظامِ اِنهضام د پاره فائده منده ده خو څنګه چې ميډيكل سائنس ترقي كوي، د روژے طِبِّـي فائدے هم ښكاره كيږي، جديد ميډيكل سائنس دا هم مني چې روژه په طِبِّـي اعتبار سره ډيره لويه كرشمه ده، د روژے په بركت معده او نِظامِ اِنهضام هُم ټيك كيږي او د دې سره سره د ډيرو بيمارو نه هم نجات ميلاويږي، تر دې پورې چې داسې بيمار چې د ډيرې مودے نه ناجوړه وي، بيماري د هغه په بدن

---

1...ترمذی، کتاب:الزہد، صفحہ:566، حدیث:2380۔

2...تفسیر قُرطبی، پارہ:8، سورۃالاعراف، تحت الآیۃ:31، جلد:4، صفحہ:118۔

کنبې خيلې مضبوطي کړي وي، په داسې مريضانو چې روژه اونيولے شي نو د هغوئي په مرض کنبې د ډيره حده پورې کمے راتلے شي.

د تحقيقاتو مطابق ☸ د روژے په حالت کنبې د پيشمني نه تر روژه ماتي پورې څه خوراك څنباك کول نه وي نو دا عمل د زړه د پاره فائده مند دے، د دې سره زړه ته آرام ميلاويږي، د زړه په والونو دباؤ کم پريوځي، دغسې د زړه د پاره وينه ټول بدن ته رَسَولو او وينه صفا کولو کنبې ډير کم وخت لګي، دغه شان د زړه په قُوَّت کنبې اضافه کيږي☸ د روژے د ټولو نه اَهم اثر په پوره بدن کنبې د وينې په رګونو کيږي، بعضې وخت د وينې والونه اوچ شي يا کمزوري شي، د هغې په وجه وينه په رګونو کنبې په آسانئ سره چلن نه شي کولے، چې کله مونږه روژه اونيسو او د پيشمني نه روژه ماتي پورې هيڅ خوراك څنباك نه کوو نو په وينه کنبې موجود غذائي اجزاء پوره حل شي، دغه شان د وينې په والونو باندې وازګه او کوليسټرول وغيره نه نخښلي او د وينې نالئ د اوچيدو او کمزوريدو نه محفوظه کيږي ☸ د روژے په حالت کنبې پښتورګو ته هم د آرام پوره موقع ميلاويږي، دې سره د پښتورګو قُوَّت بحال کيږي ☸ د روژے په حالت کنبې کولـمو ته هم آرام او طاقت ميلاويږي، زمونږ د کولـمو نه لاندې د مدافعتي نِظام بنيادي عُنصر وي، هغې ته د **کولـمو جال وئيلے** کيږي، د روژے په دوران کنبې په معده او کولـمو کنبې صحت مند لوند والے پيدا کيږي چې د هغې نه کولـمو ته نوې تازګي او طاقت حاصليږي، دغه شان د روژه دار خوراك هضم کوونکي نالئ د مرضونو نه محفوظه کيږي ☸ د روژو او اوداسه شريك اثراتو

سره په دِماغ کښې د وينې د چلن بےمثاله توازن قائميږي، او دِماغ ورسره صحت مند کيږي او ذِهني بوج لرې کولو کښې مدد ميلاويږي ❁ روژه په ځِيګر [اِينه] باندې ډير ښه اثر کوي، زمونږه ځِيګر 15 قِسمه کار کوي، مونږه که لږ خوراك اوکړو، تر دې چې که صرف 100 ګرامه خوراك هم معدے ته اورسي نو زمونږه پورا نِظامِ اِنهِضام خپل کار کول شروع کړي او ځِيګر فوري طور مصروفه شي، دغسې مسلسل مصروفه اوسيدو سره ځِيګر ستړے شي او خپل کار پوره نه شي کولے، چې کله مونږه روژه اونيسو نو د دې په برکت ځِيګر ته هم د آرام کولو موقع ميلاؤ شي، د روژے په حالت کښې ځِيګر طاقت رَسَوونکي غِذا جمع کولو نه د ډيره حده پورې آزاد شي او خپل طاقت په قُوَّتِ مُدافَعت مضبوطولو باندې خرچ کوي نو په دې وجه زمونږه قُوَّتِ مُدافَعت هم زيات شي.

## د روژے 11 طِبّـي فائدے

مجموعي طور طِبّـي اعتِبار سره روژه د اللہ پاك ډير غټ انعام دے چې مونږ ته د ډيرو بيمارو نه نجات هُم راکوي او ډيرو بيماروںه مو محفوظه هُم ساتي. **(1)**د روژے په برکت د معدے تکليفونه او بيمارئ لرې کيږي او نِظامِ اِنهضام هم ورسره بهتر کيږي. **(2)**روژه شوګر ليول، کوليسټرول او بلډ پريشر کښې اعتدال راولي او د دې په وجه د زړه د دورے راتلو خطره ختمه شي. **(3)**د روژے په برکت جسماني ستوماني او ذِهني پريشاني، او نفسياتي مرضونه ختميږي. **(4)** د روژے په برکت د بدن پيړيدو کښې کمے راځي او زياته وازګه ختميږي. **(5)**د روژے په برکت د بے اولاده زنانؤ د

اولاد کيدو امکانات ډير زياتيږي.[1] **(6)** د روژے په برکت قُوَّتِ مُدافعت زياتيږي. **(7)** د روژے په برکت انسان د غلطو خيالونو نه بچ اوسي او ذِهن ئې صفا کيږي. **(8)** د روژے په برکت د اِنسولين په استعمال کښې کمے راځي. **(9)** د روژے په برکت د ځيګر خوا و شا جمع شوي وازګه کميږي. **(10)** د روژے په برکت د پوستکي او د سينے د کينسر خطره کميږي. **(11)** د روژے په برکت په اعصابي مرضونو کښې بهتري راځي.[2]

## د روژے مُتَعَلِّق يو حيرانوونکے تحقيق

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! روژه د صحت مند ژوند راز دے، په دې باره کښې يو ډاکټر ډير ښکلے تحقيق کړے دے، هغه وائي: ❁ د روژے کوم عمل چې انسان کوي، يعني د څه وخت د پاره د خوراك څښاك وغيره نه منع شي، که سوچ اوکړئ نو دا عمل د دُنيا نور ژوندي مخلوقات هم کوي او د دې عمل سره هغوئې ته صحت او تندرستي ميلاويږي، د هغوئې ژوند ښائسته کيږي، د واورو د علاقو [يعني د سختو يخو علاقو چې هلته څو څو مياشتې واورې پرتے وي، د هغه علاقو] ځناور څو څو مياشتې په خپلو غارونو کښې اوسي، بهر ته نه راوځي، په دې دوران کښې هغه ځناور خپل يو کورس پوره کوي، چې هغې ته په انګريزئ کښې ***Hibernation*** (هائي برنيشن يعني د يخنئ اوګرد خوب) وائي. په دغه دوران کښې هغوئې خوراك څښاك نه کوي، چې کله د

---

1…صراط الجنان، پاره:2، سورۂ بقره، زيرِ آيت:184، جلد:1، صفحه:293۔

2 ماہنامه فيضانِ مدينه مئ 2020ء ص: 82، 83۔

هغوئي کورس مکمل شي نو بيا د غارونو او جالو نه بهَر راوځي، نو په دغه دوران کښې د هغوئي ځرمن داسې ښکلي شوي وي چې ځليږي، د مرغو نوي وزرې شوي وي، هغوئي هُم تازه شوي وي. ❁ دغه شان ماران هم د خپلو روژو په شان کورس پوره کوي او چې کله خپل کورس مکمل کړي، نو پوستکے اوباسي يعني زوړ پوستکے ترينه لرې شي او د هغې په ځائے پرې نوے ځليدونکے پوستکے راشي ❁ وني هم غټيږي دا د پاڼړو په ذريعه د لمَر نه توانائي او د هوا نه نمي [يعني لـمدوالے] وغيره حاصلوي، مونږ ته معلومه ده چې په کال کښې يو ځل د خزان موسم راځي، ګويا دا د وَنو د روژو نيولو انداز دے، په دغه دوران کښې د وَنو پاڼړي ريژيږي، دا د بَهَر نه خوراك اخستل بند کړي، بيا چې کله د دوئي کورس مکمل شي نو سپرلے راشي او وَنې نوې پاڼړي او نوې غنچے اونيسي او هر طرف شين شين شي.

ګويا صرف اِنسان نه بلکه د دُنيا نور ساه لرونکي هم په خپل خپل انداز کښې د روژو په شان عمل کوي نو هغوئي تازه او ښکلي او ښائسته شي، دغسې که انسان هم روژے اونيسي نو د دې په برکت هغه تازه شي او صحت ئې هم ټيک شي او بهترينه نشوونما حاصلوي.

اوس حديثِ پاك واورئ: صُوْمُوا تَصِحُّوا يعني روژه اونيسئ صحت مند به شئ....!![1]

اے عاشِقانِ رسول! زمونږ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك څومره رښتينے دے، نن ميډيکل سائنس په سوونو صفحو باندې مشتمل چې کوم تحقيق کړے

1…ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:206۔

دے، زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 1400 كاله مخكښې صرف په دوو الفاظو كښې هغه هر څه بيان كړي دي.

میں نثار تیرے کلام پر ملی یُوں تو کس کو زباں نہیں
وہ سخن ہے جس میں سخن نہ ہو، وہ بیاں ہے جس کا بیاں نہیں[1]

**وضاحت:** يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ستاسو د خوږ خوږ كلام نه قُربان شم چې ژبه خو هر چا ته عطا شوې ده خو ستاسو خوږه وينا خو بس صرف ستاسو وينا ده، كومه خبره چې تاسو اوفرمائي نو د ټولو سرونه ښكته شي، څوك د اعتراض كولو هيڅ لاره نه لري او ستاسو وينا خو داسې لاجوابه وينا ده چې دا هډو څوک بيانولے نه شي.

## روژه او روحاني صحت

اے عاشِقانِ رسول! دا خو د جسماني ډاكټرانو تحقيقات وو!! راځئ چې اوس واورو چې روحاني طبيبان يعني صوفيائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په دې باره كښې څه فرمائي چې آيا روژه روحاني اعتِبار سره هُم صحت ټيک كوونكې ده؟

په دې باره كښې روحاني طبيبان (يعني صوفيائے كرام عَلَيْهِمُ الرَّحْمَه) دا وضاحت فرمائي چې د اسلام ښودلو شوو نورو عبادتونو كښې روژے ته يو خاص مقام و مرتبه حاصله ده، په حديثِ پاك كښې ارشاد دے، الله پاك فرمائي: اَلصَّوْمُ لِیْ وَ اَنَا اَجْزِیْ بِهٖ يعني روژه زما د پاره ده او د دې جزا به هم زه وركووم.[2]

1…حدائقِ بخشش، صفحه:107۔

2…بخاری، کتابُ التَّوحید، صفحه:1806، حديث:7492۔

په دې حديثِ قُدسي كښې **اللہ** پاك روژه خپل ځان طرف ته منسوب كړې ده، حالانكه لمُونځ هم د **اللہ** پاك د پاره دے، حج، زكوٰة او ټول عبادتونه د **اللہ** پاك د پاره دي خو **اللہ** پاك خاص د روژے په باره كښې فرمائيلي دي چې روژه زما د پاره ده. **حُجَّةُ الاسلام** اِمام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د روژے خاص كولو **دوه حكمتونه** دي: **(1)** روژه د عمل نه (يعني د خوراك څښاك وغيره نه) د منع كيدو نوم دے او دا ذاتي طور پټ عمل دے چې نه ښكاري، او نور عبادتونه خلقو ته ښكاري، روژه داسې خاص عبادت دے چې صرف **اللہ** پاك ئې ويني، يعني اِخلاص چې د هرې نيكۍ اصل دے، دا په روژه [نيولو] كښې زيات وي، ځكه ئې اوفرمائيل: اَلصَّوْمُ لِیْ (يعني روژه زما د پاره ده). **(2)** اِمام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: روژه د **اللہ** پاک دُښمن يعني شيطان باندې د غلبه موندلو ذريعه ده، ځكه چې شيطان د نفساني خواهشاتو په ذريعه په انسان حمله كوي (لِهٰذا شيطاني خواهشات چې څومره زيات وي، شيطان په بنده باندې هغه همره زياته حمله كوي، كه مونږه په نفساني خواهشاتو كمولو كښې كامياب شو نو د شيطان لارې بندولے شو)- او نفساني خواهشات د خوراك څښاك سره حاصليږي (كه مونږه په خوراك څښاك كښې كمے اوكړو نو د دې په بركت به نفساني خواهشات هم كم شي او د شيطان لاره به هم بنده شي).[1] د **اللہ** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشكه شيطان په انسان كښې د وينې په شان منډې وهي [يعني تيز تيز ګرځي] پس د

---

1…احیاءُالعلوم مترجم، جلد:1، صفحه:703۔

لوږې په ذريعه د هغه لارې تنګې کړئ.[1]

الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې روژه نيولو سره زمونږ نفساني خواهشاتو کښې کمے راځي نو د دې په برکت مونږه د شيطاني حملو نه محفوظه کيږو او چې کله مونږه د شيطاني حملو نه محفوظه شو نو زمونږه رُوح ته طاقت نصيب کيږي، د ګناهونو نه د بچ کيدو ذِهن جوړيږي او زړه مو روښانه کيږي. او چې زړه مو روښانه شي نو [په زړه کښې مو] د الله پاك او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت زيات شي او عبادت خوند راکول شروع کړي. ځکه صوفيائے کرام عَلَيْهِمُ الرَّحْمَه فرمائي: اَلْجُوْعُ رَأْسُ مَالِنَا يعني لوږه زمونږ اصل مال دے. مطلب دا دے چې مونږ ته کومه فراخي، سلامتي او په عبادتونو کښې شوق او خوند ملاويږي او کوم عِلمِ نافِع راته حاصليږي، دا د الله پاك د پاره په لوږه اختيارولو او په هغې باندې د صبر کولو په سبب حاصليږي.[2]

## د نُور نه ډکه سينه

د الله پاك آخري نبي، رَسُولِ هاشمِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چې کله بنده په خپل خوراك کښې کمے کوي نو د هغه جَوف (يعني سينه) د نُور نه ډکه کړے شي.[3]

په مِنْهَاجُ العَابِدِين کښې دي: په مړه خيټه خوراك کولو سره د عبادت خوند

1…كَشْفُ الْخِفَاء، جلد:1، صفحه:198، حديث:671۔

2…فيضانِ سنّت، صفحه:675۔

3…جامع صغير، صفحه:35، حديث:469۔

ختميږي. د مسلمانانو وړومبے خليفه **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت ابُوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زه چې د کله نه مسلمان شوے يم، ما په مړه خيټه خوراك نه دے کړے د پاره د دې چې ما ته د عبادت خوږ والے حاصل شي.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! روژه د بدني صحت او روحاني صحت دواړو ضمانت ورکوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَجَبُ الْمُرَجَّب مياشت ده، د نفلي روژو سپرلي دي، مونږ له پکار دي چې د دې برکتي ورځو نه فائده واخلو او ډيرې روژے اونيسو، نيکئ هم اوکړو او د دې په ضِمن کښې دُنياوي فائدے هم حاصلې کړو. راځئ چې د ترغيب د پاره د روژه دارو دوه واقعے واورو:

## په سخته ګرمئ کښې روژه

حجَّاج بِن يُوسف يو ځل د سفر په دوران کښې د مکے مکرمے او مدينے مُنَوَّرے په مينځ کښې په يو مقام کښې دَمه اوکړه، د غرمے طعام ئې تيار کړو او **وزيرِ مُمْلِکت** ته ئې اووئيل چې يو ميلمه راوله. **وزيرِ مُمْلِکت** د خيمے نه بهَر اووتلو نو يو اعرابي (يعني د عربو د کلي يو سړے) ئې ملاست اوليدو، وزير هغه اعرابي رابيدار کړو او ورته ئې اووئيل: راځه امير **حَجّاج** دِ غواړي. اَعرابي چه راغلو نو **حَجّاج** ورته اُووئيل: زما دعوت قبول کړه او لاسونه وِينځه او زما سره طعام خوړلو ته کښينه. اَعرابي ورته اُووئيل:

---

1...منهاجُ الْعابدين، صفحه:224223ـ

بخښنه غواړم! ستاسو نه مخکښې مې ستاسو نه د بهتر يو **کريم** دعوت قبول کړے دے. **حَجّاج** اُووئيل: هغه د چا؟ هغه اُووئيل: د **الله** تعالىٰ چا چې ما ته د روژے نيولو دعوت راکړو او ما روژه اونيوله. **حَجّاج** اُووئيل: په دومره سخته ګرمئ کښې روژه؟ اَعرابي اُووئيل: آو! د قيامت د سختې ګرمئ نه بچ کيدلو د پاره. حَجّاج اُووئيل: نن طعام اُوخوره او دا **روژه** صبا اونيسه. اَعرابي اُووئيل: آيا تاسو د دې خبرې ضمانت راکوئ چه زه به صبا پورې ژوندے اوسم! **حَجّاج** اُووئيل: دا خبره خو نشته. اَعرابي اُووئيل: نو بيا هغه خبره هُم نشته. دا ئې اُووئيل او لاړو.[1]

## د قبر د خاورې نه د مُشکو خوشبو [راتله]

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله بِن غالِب حَدَّاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه شهيد کړے شو. خخولو نه پس به د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د **قَبْر** مبارك د خاورو نه د مُشکو خوشبو راتلله. چا په خوب کښې اوليدو او تپوس ئې ترينه اوکړو: "تاسو سره څه مُعامَله اوکړے شوه." هغوئې اُوفرمائيل: "ښه مُعامَله راسره اوکړے شوه." هغه [خوب ليدونکې] ترينه تپوس اوکړو: تاسو ئې چرته بوتلئ؟ هغوئې اُوفرمائيل: "جَنَّت ته." تپوس ئې ترينه اوکړو: "د کوم عمل په وجه؟" هغوئې اُوفرمائيل: "د اِيمانِ کامِل، **تَهَجُّد** او د ګرمئ د روژو په سبب." بيا ئې ترينه تپوس اوکړو: "ستاسو د **قَبْر** نه د مُشکو خوشبو ولے راځې؟" نو جواب ئې ورکړو: "دا زما د تِلاوت او په روژو کښې د تندې خوشبو ده."[2] د الله پاک دِ په هغوئې

1…رَوْضُ الرِّيَاحِين، حکايت:222، صفحه:216۔

2…حِلْيَةُ الْاَوْلياء، جلد:6، صفحه:266، 267 ملتقطاً۔

رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: "نيك اعمال"

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رَسُول ديني تحريك دعوتِ اسلامى ديني ماحول كښې د رَجب او شَعبان د روژو سپرلي وي په مختلفو ځائيونو كښې د سحري اجتماعاتو هم اِهتمام كيږي، ډير عاشقانِ رَسُول په دې دواړو مياشتو كښې كثرت سره روژے نيسي او مسلسل روژو نيولو سره دا عاشقانِ رَسُول د رَمَضانُ المُبارَك سره ميلاؤ شي. تاسو هم د دعوتِ اسلامى ديني ماحول سره وابسته شئ، او 12 ديني كارونو كښې د زړه په اخلاص سره حصه واخلئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دې په بركت به مو د ګناهونو پريښودو، نيكو كولو او د خپل قبر و آخرت د تيارئ كولو ذِهن جُوړ شي. د ذيلي حلقے 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: 72 نيك اعمال هم دي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابُوبلال محمد اِلياس قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپلو مريدانو، طالبانو او عقيدت مندو او د ټولي دُنيا عاشقانِ رسول ته د خپلي اصلاح بهترينه نُسخه وركړي ده او هغه رساله ده: "نيك اعمال". دا مختصره رساله د مكتبةُ المَدينه نه قيمتاً واخلئ، كه غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه ئې ډاؤنلوډ كړئ او كه نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل كښې *Naik Amaal* [نيك

اعمال] ايپلي کيشن ډاؤنلوډ کړئ، هره ورځ ئې ګورئ او د دې مطابق ژوند تيروئ او هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه اخلئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې رسالے په برکت به مو د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِهن جوړ شي، د زړه پاك والے به درنصيب شي او کردار به مو ښکلے ښائسته او صفا سُتره شي. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## د ټول کور اصلاح اوشوه

د ضلع اټك (پنجاب) د يو اسلامي ورو بيان دے چې ما به د ګناهونو نه ډك ژوند تيرلو، فلمونه کتل، فضول ګرځيدل، لمُونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامِل وو، يو ځل زمونږ علاقے ته د عاشِقانِ رسول مَدَني قافِله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي ورور ما ته د ماښام لمَانځه ادا کولو او په بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش نصيبي وه چې زه هغوئي سره جمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس مې چې بيان واوريدلو نو زړه ته مې سکون نصيب شو او ډير خوند ئې راکړو، د بيان په آخره کښې مُبَلِّغ د "**نيك اعمال**" رسالے تَعارُف اوکړو، په رساله "**نيك اعمال**" کښې ليکلو د نيکو نه ډك د ژوند تيرولو مدني ګلونه مې چې واوريدل نو ډير زيات مُتأَثِّره شوم، د دې رسالے په صورت کښې مې چې د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اِصلاح سوچ اوليدو نو ما په هغه ساعت فوراً د بيعت د پاره خپل نوم ور اوليکو او عَطَّاري جوړ شوم، د ولـئ کامِل سره د نسبت په وجه مې زړه د ګناهونو نه بيزاره شو او نيکو طرف ته مائل شو، ما د ګناهونو نه توبه اوکړه او د دعوتِ اسلامي

ديني ماحول مې اختيار کړو، د دې په برکت زما اخلاق ښائسته شو، زما د دې بدلون زما د کور په خلقو هم ښه اَثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په قلاره قلاره د ټول کور کسان قادري، رضوي او عَطّاري جوړ شو، په کور کښې مو د لمُونځونو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے، سندرې او باجے بندې شوې او د ګناهونو ډك چينلو په ځائے مدني چينل کتل شروع شو.

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې اوس "**مَدَني انعامات**" ته "**نيك اعمال**" وئيلے کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيل: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. **(1)**"

| | |
|---|---|
| کروں کاش! سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام | تُو پیکرِ سُنّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنّتو مطابق | پيکر کړې د سُنّتو ما، زما خوږه مَولٰی |

## د رانجو لګولو سُنّتونه او آداب

**فرمانِ مصطفٰی**: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټولو رانجو کښې بهتر رانجه **اِثمِد** دي ځکه چې دا

1...جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد:1صفحه:201، حديث:220۔
2...وسائل بخشش، صفحه:118۔

نظر روښانه کوي او بانړه راخيژوي.[1]

اے عاشِقانِ رسول! د کانړي رانجه استعمالولو کښې باك نشته او تور رانجه يا کاجل د زِينت [يعني ښائست حاصلولو] په اِراده د نارينه د پاره لګول مکروه دي او که زِينت [حاصلول] ئې مقصد نه وي نو کراهت نشته، رانجه د اُوده کيدو وخت کښې استعمالول سُنَّت دي. ۞ د رانجو استعمالولو د درې طريقو خُلاصه وړاندې کيږي: (1) کله په دواړو سترګو کښې درې درې سلائيان (2) کله په ښئ سترګه کښې درې او په ګڅه کښې دوه، (3) او کله په دواړو سترګو کښې دوه دوه او بيا په آخره کښې د رانجو ککړ يو سلائي وار په وار دواړو سترګو کښې اولګوئ، په داسې کولو به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! په درې واړو طريقو عمل اوشي.

اے عاشِقانِ رسول! د تَکريم به چې خومره کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي طرف نه شروع کول، لِهٰذا اول په ښئ سترګه کښې رانجه اچوئ بيا په ګڅه کښې.[2]

د سُنَّتونو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب "550 سُنّتيں اورآداب" واخلئ او اولولئ ئې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1…ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الكحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497۔

2…550سنتيں اور آداب، صفحه:38۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِ نَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

---

1 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

ئي هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئي هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئي چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵